محمد ابراهيم گران

۲۰۱۳/۰۲/۱۲

# په افغانستان کې د مالياتو سيستم

ماليات په ټوله نړۍ کې د دولت له لورې له هغه چا څخه اخيستل کېږي چې قانوني شرايط يې پوره وي. د قانون له مخې هر حقيقي او حکمي وګړی مکلف دی چې ماليه ورکړي اود همدې ماليې په برکت د خپل هيواد بنسټيز کارونه پرمخ بوزي، د ودې او پراختيا له پاره ولګول شي، که څوک له ماليې ورکولو څخه انکار کوي، نو دولت په دې مکلف دی چې له دې کسانو څخه په زوره ماليه واخلي او خپلې بودجې ته يې وسپاري. همداسې د افغانستان د مالياتو په قانون کې هم ويل شوي دي، چې ماليه يوه حتمي ورکړه ده چې د دولتي بنسټونو د پياوړي کولو، د عامو وګړو د سوکالۍ او ګټو چارو د برابرولو له پاره له حقيقي اوحکمي وګړو څخه اخيستل کېږي، ټول ماليات چې په هر ډول وي اوله هر وګړي څخه اخيستل کېږي، بېرته ماليې وزارت ته ځي اود دولت په بودجه کې ور زياتېږي. ماليات په دوه ډوله اخيستل کېږي، چې يو يې له بهر څخه د توکو د راوړولو په صورت کې چې افغانستان ته ننوزي په ګمرکونوکې اخيستل کېږي او بل يې هم د هيواد په دننه کې له مکلفو کسانو څخه اخيستل کېږي. حقيقي او حکمي کسان چاته ويل کېږي؟ حقيقي وګړي هغه څوک دي چې په افغانستان کې اوسي اود دې هيواد د استوګنې شرايط يې بشپړ وي.
حکمي کسان هغه دي چې د دې هيواد تابعيت ولري، حکم پرې شوی وي، جايداد ولري، شرکت او ياهم بله سرمايه لري. چې بيايې دې کسانو ماليه ورکول حتمي دي.
لومړی راځو يوڅه ناڅه د مالياتو په اخيستلو غږېږو له خپلواکۍ څخه وړاندې د افغانستان ماليات په داسې ډول ۇ چې:
مستقيم ماليات لکه، د ځمکې، ژرندې، د اصنافو جواز، د پايکوب (يوډول ماشين ۇ) ماليات، د لوګيو په سرماليه، سرانه، مذهبي جزيه، د مالونواو څلوپښتمه ماليه، د څارويو، صکوکو اوداسې نورو ماليه اخيستل کېده اوغيري مستيقمه ماليه ياګمرکي ماليه په برخو وېشل کېده، له دې څخه وړاندې نورشکلونه يې بېګار، جسمي خدمتونه، غنيمت، خراج اوداسې نور...ۇ. په غيرمستقيمو مالياتوکې په ګمرکي ماليو سربېره، د حق الانحصارماليه، دځينو استهلاکي موادو په پلورلوماليه، اوبالاخره ماليه په اسعاروهم تاکل کېده. د ګمرکونوماليه به د سببونو په واسطه راټولېده اوګمرک به د چبوتره په نامه سره يادېده، دا ماليه به په نقدو اود جنس په بڼه راټولېده.
له ۱۲۹۹ کال وړاندې دولت يو اسانه تشکيل درلود، چې له دفتر او ورځپاڼې څخه عبارت ۇ اوپه ارقاموبه ترتيبېده، په هغه وخت کې د بودجې نظام شتون نه درلود، په ۱۲۹۹ کال کې د دفتر اصول جوړ شول، په دې وخت کې دفتري اصولو مضاعفه بڼه نه لرله بلکه د هغه وخت له غوښتنې سره سم به پرمخ بيول کېده. حسابونو يې په همدې ډول تر ۱۳۰۳ کال پورې دوام پيداکړ او له ټولو اسنادوسره به پلازمېنې ته راوړل کېده. په ۱۳۰۳ کال کې د دفتري اصول ځای ښاري اصولو ونيود اود هغو په اساس به د حسابونواواسنادو ترتيب اوتنظيم په هره مياشت کې کېده. په ۱۳۱۵ کال کې د ايټالوي پوه (ژينومانچولې) په واسطه په مالي سيستم کې بدلون راغی چې بيا به د اسنادو ترتيب او تنظيم اجرايه څانګې او کنترول ته لېږل کېده اومحاسبې به د محاسبې په دفترونو کې ترسره کېدې. د خپلواکۍ له ترلاسه کولو وروسته اداري تشکيلاتو تعديل وموند. په پيل کې د چارو پرمخ بيولو له پاره د څارنې په نامه بنسټونه جوړشول. چې له دغو بنسټونوڅخه يوهم د ماليې وزارت ۇ نوموړي وزارت په ولايتونو او مرکزکې څانګې درلودې. په ولايتونو کې به مالي نماينده ګان نايب الحکومه اومستوفيان ګمارل شوي ۇ.
په معاصرو وختونو کې چې کومه ماليه اخيستل کېږي، هغه له ټولو هغو حکمي اوحقيقي وګړو څخه چې د هيواد په دننه اوبهرکې اوسي اوخپل عوايد له بېلا بېلو سرچينو څخه لاس ته راوړي د ماليات پرعايداتو د قانون له مخې د ماليې په ورکولو مکلف دي. په دې صورت کې چې دوی د مالی کال په اوږدو کې د هيواد په دننه کې اوسېدلي وي، هغه کسان چې د دولتي خدمت په موخه له هيواد څخه بهر ګمارل شوي وي. هغه ادارې چې د مالي کال په اوږدوکې په دې هيواد کې تاسيس شوي وي او ياهم مرکزي اداره يې په افغانستان کې وي، ماليه د عوايدو له هغو سرچينو څخه چې په افغانستان کې استوګن اوله هيواده بهر يې له دولتي سرچينو څخه لاس ته راوړي. ماليه په افغانستان کې له هغو استوګنو چې د بهرنيو هيوادونو له سرچينو څخه په دې هيواد کې عوايد لاس ته راوړي.
د مالياتو په راټولوکې به په راتلونکو نويو کلونوکې هم ځيني نوښتونه رامنځ ته شي، په افغانستان کې مالياتو بېلابېل پړاونه وهلي اود څو لنډو کلونو په اوږدوکې چې د افغانستان مالي سيستم ته جدي پاملرنه شوې، د مالياتو او عوايدو په برخه کې د افغانستان هلې ځلې د نړيوال بانک اونړيوالې ټولنې له لورې ښې ستايل شوي چې دپام وړ پرمختګونه يې کړيدي او د سيمې د هيوادونو په پرتله يې ارزونه ښه ده، خوله بده مرغه افغانستان د څو کالو جنګ اوجګړو له کبله دې ته رارسېدلی ۇ چې مالياتي اود عوايدوسيستم يې تقريباً په بشپړه توګه له منځه ولاړشي اوله څه باندې لسو کالو راهيسې زموږ د بودجې ډېره برخه په بهرنيو مرستو ولاړه ده.


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنـښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

له بله پلوه له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو په وتلو اود نړیوالي ټولنې د مرستو د کمښت له کوابښونوسره افغانان په دې اندېښنه کې دي چې، که د نړۍ والي ټولنې لاسونه له افغانستان څخه پورته شي، د بېکارۍ اوغربت ستونزې به زیاتې شي اوډېرې چارې به په ټپه ودرېږي، په داسي حال کې چې اوس مهال د افغانستان بودجه چې عادي بودجه ۱۰۷ میلیارده افغانۍ ده اوپه سلوکې ۵۵٪ له کورنیو عوایدوڅخه لاس ته راځي، له دې سره ترڅنګ د پراختیایي بودجې چې ۸۷ میلیارده افغانۍ کېږي اوپه سلوکي یې۴۵٪ د بهرنیومرستو له سرچینوڅخه تمویلېږي.
د دا ډول ستونزو په لیري کولو سره د افغانستان ماليې وزارت د عوایدو لوی ریاست پر مټ چې د (IMF) بشپړه مرسته ورسره ده، دې ته چمتووالی وښود اوپه داسي یوډول نوي پلان باندي کارکوي، ترڅو په افغانستان کې د هغو ۱۲۵ هیوادونو په څېر چې زموږ ګاونډي هیوادونه هم په کې شامل دي، چې نور له بهرنیو مرستو څخه خپل لاسونه راڼدې شي اود خپل هیواد په خپلو عوایدواوماليې باندي ځان بسیاکړي.
IMF د افغانستان له ماليې وزارت سره په دې برخه کې په ګډه کار کوي چې، د ارزښت پرزیاتوالي مالیه یا -Value Added Tax (VAT) په افغانستان کې پلی کړي، د دې ډول ماليې پلان لس کاله پخوا په لبنان کې په بریالیتوب سره پلي شوی وه، که څه هم په افغانستان کې د شته ستونزو په لرلو سره د داسي ماليې عملي کول اود عوایدو زیاتوالی به په افغانستان کې له کړاوونو سره مخ شي، خود IMF له قوله چې دایوه کامیابه لارده اود نړۍ ۱۲۵ هیوادونه د همدې عوایدو له لارې خپل لګښتونه پوره کوي.
یاده مالیه به په داسي حال کې اخیستل کېږي، کله چې توکي (جنسونه) د سوداګرو له لورې د افغانستان بازارونو ته وړاندي شي، نو د ارزښت د زیاتوالي په سبب به ورڅخه مالیه اخیستل کېږي، د بېلګې په توګه کله چې یو جوړه بوټونه مخکې له دې چې بازارته وړاندي شي ارزښت نه لري، بازارته په وړاندی کولوسره ارزښت پیداکوي اود ارزښت له مخي به یې مالیه واخیستل شي، د هرډول جنس یاتوکي مالیه د جنس په ارزښت پورې اړه لري.
د عوایدو ریاست او IMF غواړي چې دغه پروګرام په را روان ۱۳۹۳ هـ ل کال کې پلی کړي، له دې پروګرام سره به د افغانستان عواید لوړ اوله بهرنیو مرستو څخه به مو تریوې زیاتي کچې لاسونه راټول شي او افغانستان به په خپلو شتمنیو موړ شي.
د یو په پښو ولاړ افغانستان په هیله!

پای

لیکنه او ژباړه: محمد ابراهیم (ګران) د ماليې وزارت، د مطبوعاتو آمریت.


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ